مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَونگی جبارخیل

۲۰۲۲/۰۲/۱۱

# ښـه به وي

راز چي نـاويلـی وي، نـو ښـه به وي
قـهر چي خوړلی وي، نـو ښه به وي

ورک که شي، نو چـېري لټوې به يې
يار تـر لاس نيولی وي، نو ښه به وي

چـل ول د رقـيـب تـه دې پـام ونيسه
مــار لــړم وژلی وي، نـو ښـه بـه وي

دوه مـخـه لــري چي تـېـردېـنـبـاسي
تـګ که پـېژنـدلی وي، نـو ښه به وي

يـار چي درسره وي محفل ګرم وي
سيال دې هم راغلی وي، نو ښه به وي

څـه چـي نـن کـرې، سبا بـې وربېـږي
ګل دې کـه کـرلي وي، نـو ښه به وي





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ